جرگهٔ نجات افغانستان

۲۰۱۰/۱۱/۲۴

# خـــبـــرتـيـــا
# د افغانستان د ژغورنی د جرگی [جرگهٔ نجات افغانستان]

بسم الله الرحمن الرحیم

گرانو وطنوالو سلام وعلیکم :

د ډیورند کرښه کومه قانونی اعتبار نلري او تر اتکه او جېلمه پوری د لوی افغانستان خاوره ده. خو په دغه شرایطو کی چی افغانستان بهرنیو یرغلگرو اشغال کړی دی، یو قوي مرکزی او ملی دولت نلرو او بی شمیره نورو ستونزو سره هم مخ یو. د ډیورنډ په باره کی ږغ پورته کول د یو کوچني شمیر تجزیه طلبانو له خوا چی د بهرنیو په لاربښوونه یی دا کار پیل کړی دی موږ خپله اندیښنه د افغانستان با تور ملت سره شریکوو.

۱ -- یرغلگر غواړي چی دافغانستان د خلکو داحساساتو څخه استفا ده وکړي او د اشغال څخه د خلکو پام د پښتونستان مسألی ته راواړوي چی دوي خپلي پښي ټینگي کړي او خپلو مقاصدو ته ورسیږي.

۲ -- پښتانه پخپل منځ کی واچوي چي داشغال پر ځاي دوي خپلو منځو کي جگړه پیل کړي او مقاومت د دوي په مقابل کي لږ شی او یا د منځه ولاړ شی.

۳ -- کله چي پښتانه خپل منځ کي واچول شي د شمال د ائتلاف هغه کړی چي د افغانستان ټوټه کیدل غواړي به خپل ناپاکه پلان په آسانی سره د ایران، روسیې، تاجکستان او نورو بهرنیو دښمنانو په مرسته مخ ته بوزي ....

۴ -- ناټو غواړي چي پاکستان تر فشار لاندي ونیسي څو د طالبانو پرضد خپل نظامي عملیات گړندی کړي او د هغوی مخ نیوی وکړي.

۵ -- هغه وطن پلورونکي چي په دغه نا مناسبه شرایطو کي د ډیورند غږ پورته کوي غواړي چي آزاد پښتانه قبایل چی تر اوسه یی آزاد ژوند کړی دی په بهرنیو خرڅ کړي او د اشغال لمنه تر اټکه پوري ورسوي.

د ډیورنډ د جرگي ځینی غړو د تلویزیون له لاري د ناټو څخه غوښتنه وکړه چی د پښتونستان په آزادولو کي مرسته وکړي یعني پښتونستان هم اشغا ل کړي ......

مونږ د خپل بیدار ملت څخه غوښتنه کوو چي لومړی باید خپلواکي وگټو او خپل ملي حکومت ولرو. موږ د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه پیژنو. دا یوه ملي مسأله ده چي یوازي ملي حکومت یې باید مطرح کړي. موږ باید د دښمنانو توطیی شنډي کړو او پري نږدو چي زمونږ گران افغانستان بیا ټوټه شي.
موږ د مسلمانو روڼ اندو افغانانو څخه یو موټي کېده او د ژغورني د جرگې د اهدافو سره یو ځای کېده غواړو.

و من الله تو فیق
دافغانستان د ژغورنی د جرگي د اجرایی شورا له خوا

Telephone: 001-269-353-7044
Mail Adress : afghannj@gmail.com


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ